پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۰۹/۰۷/۰۱م

# دکندهار د پیبنی ریبنې او بی عبرته درسونه

د روان ۲۰۰۹ کال دجون د ۲۸ نیټې په ماښام هیوادوالو د رسنیو دلاری یو ډیر زړه بوګنونکی خبر واوریدې . دسپیشل فورس پنامه دامریکایی ځواکونو افغانی اجیرو ساتندویانو دخپل یوه ملګری دخلاصون پخاطر چی دموټر دغلا په تور نیول شوې وو , دکندهار ولایت ځارنوالی محاصره کړه . ځارنوال د امنیی قوماندانۍ ته دپیښې په اړه تلیفون وکړ . دامنیی قوماندان جنرال مطیع الله قاطع دخپل جنایی امر او څوتنو سرتیرو سره ډیر ژر هلته ځان ورساوه . ددوی تر منځ خبری تیری بیری اوپه پایله کی پلورل شوو اجیرانو هغوی دامریکا لخوا د ورکړل شوو پرمختللو عصری ماشیندارو ترضربی لاندی راوستل او دلوړو کسانو په ګډون شپږتنه پولیس د وینو په مرګونې رود کی لاهو او لدی نه وروسته اجیر قاتلان خپلی قرارګاه دامریکایی بادارانو مرکز ته ستانه شول .

په هیواد کی دمرګ ژوبلې غملړلې پیښی نوی خبره نده او نژدی هره ورځ یی خبر دهیوادوالو اونړیوالو ترغوږونو پوری رسیږی . خو دغه پیښه دهیواد په دیرش کلنی غمیزی کی دهغو ترخو واقعیتونو تکرار دی چی د شوروی کرملین پلاس پردی هیواد وتپل شوه . دا پیښه ښیی چی امریکایی پوځونه هم دافغانانو دپاره دشوروی یرغل نه راپاتو شوو زخمونو ته نه یوازی داچی ملهم نلری بلکه دمالګو بوجې یی ورته په شاپوری تړلې دی . خارجی قوتونه که دکرملین نه دخیالې سوسیالستی جنت په وعدو سره د زیار ایستونکی اوولس مخ ته حلوا نیسی اویا له واشنګټن نه د دموکرتیکې انارشۍ سینګار کړی ناوی رابدرګه کړی , د دواړو موخه یوه اوهغه داولسونو غولول , یو په بله ټکول , ددوی ترمنځ دنفاق اورته لمن وهل او په پای کی خپلو موخو ته درسیدو په هیله په دوی کی خپل منځی دښمنی او ترپګنۍ راپارول دی .

راشې پدغه اړه تر سوسیالیستی شعار لاندی دکرملین لخوا رالیږل شوی سور لښکر او د دموکراسې دپیغام سره د واشنګټن نه را الوتې په اصطلاح دسولې کوتری سره پرتله کړو :

روسانو خپلو موخوته درسیدو پخاطر په افغانی اردو کی چی دوطنپالنې مینه یی په رګ رګ کی پیچکاری شوی وه , ایدیالوژیکی کارپیل کړ . اردو که څه هم دافغانی غوره دودونو او اسلامی معتقداتو په پام کی نیولو سره یی داقتصادی سوسیالیستی سیستم سره مخالفت نه ښوده , خوداچی داکار شورویانو په منځنی اسیا کی دخپلو جمهوریتونو په شان په پام کی نیولۍ وو نو داډول ایدیالوژیکی کاریی په اردو کی دمقاومت سره مخامخ شو . کله چی کرملین ددغه ترډیره حده یوموټی اردو په وجود کی خپل دبریالیتوب لاره په کړلیچو کی ولیدل نویی دهغه وناتوانه کولو ته ملا وتړل او دملکی وګړو ترمنځ یی مذهبی , قومی , ژبنی , سیمه ایزو اونورو تربګنیو ته په لمن وهلو سره هغوی یو د بل په وړاندی راوپارول . ددغه سرکښ اردو دبی اهمیته کولوپخاطر دوی دیوه بل الترناتیف په فکر کی شول . پدی موخه یی په خاد کی جنګی لیواګانی منځته راوستلې , جمهوری ګارډ یی پراخ او په بیساری ډول مجهز کړ او قومی ملیشه ای کنډکونه یی جوړ او تر غاښونو په سپکو او درنو وسلو
بارکړل .

ددی سره سم شورویانو داخبره هم له یاده نه وه ایستلې چی که پرته‌ول افغانستان باندی لاسبرۍ ورته ناممکن شو , نو باید په شمالی او جنوبی برخو داهیواد تجزیه او شمالې برخی چی ډیرۍ اوسیدونکی یی غیرپښتنی قومونه دی , دهمدغه قومی تړاوونو له مخی د خپلو اړوندو جمهوریتونو سره وتړی . لدی امله یی ددغو سیمود قومي ملیشود داسی ډلو وپیاوړی کولو ته ډیر پام اړاوه لکه ګلیم جم اونور . سلطانعلی کشتمند چی ددی موخی دپاره تر ټولو غوره اومناسب سړۍ وو , دتجزیی دسازماندهی چاری یی ورته وسپارلې او دصدارت په مقام کی یی ترخپل قانونی صلاحیت نه زیات واک او اختیار پلاس ورکړ .

دشورویانو تر وتلو وروسته ډاکتر نجیب الله چی د اول لاس سړی په توګه دهغوی په موخو پوره خبر او دکشتمند ددی ډول هلو ځلو سره همږغۍ نه وو , دده دمخنیوۍ په خاطر یی دواک لاسونه ور لنډ کړه . خو دنجیب الله د نه بخښلو وړ تیروتنه بیا پدی کی وه چی هغه دافغانستان اردو یو خلقی اردو ګاڼه او دخپل شخصی واک دساتونکی په توګه یی باور ورباندی کولای نشو , نویی د ګلیم جم ملیشی , ګارد او دخاد ټولګۍ ددی اردو په مقابل کی لانورهم پیاوړی او دملی اردو دجنګی وړتیا وټیټولو ته یی ملا وتړل .

ددغې لیکنې اصلی موخه می دنوموړو اجیرو ملیشو دکړو وړو یادول دی څو ددغی لاری په ځینو چارو کی دکرملین او وشنګټن د موخو ورته والۍ سره پرتله کړای شو . البته په ټولو چارو کی به ددوی دبشپړ ورته والې خبره سمه نه وی او دخپلو ځانګړتیاوو سره به توپیرونه ولری .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

دنجیب الله په ملیشو کی دافغانی ټولنې ټول ناوړه مشهور فی الفسادغړی لکه غله , قماربازان , زناکاران , لواطت ګران , داړه ماران , حرفوی قاتلان او دلومپن قشر نور استازی راټول کړل شوی او په هر ډول وسلو سمبال شوی وو . داکتر نجیب الله چی ددغو ډلو دلاری ځانته د واک ساتلو په فکر کی و نو یی ددوی پلاس د قومی, ژبنې , مذهبی اونورو تربګنیو وچاغولو ته هیڅ پام نه راګرځاوه . اجیری ملیشی که دهرقوم یا مذهب نه وی , په ټولیز ډول پلورل شوی ډلې دی او دهمدغه معیار پربنسټ دهیچاسره دتلپاتی وفاداری وړتیا نلری . دغو ملیشو به ډیروختونه دوطنپالنې په بڼه کی دملی روزل شوی اردو اوځارندویانو ( روزل شوو پولیسو ) سره په نښتو کی دکندهار وروستی پیښی ته ورته خونړۍ پیښی رامنځته کولې . کله چی یی د واک پرګدۍ دډاکتر نجیب الله پښه ګوډه ولیدل نو دغه لومپنې ډلی یو دم له ټولو نه وړاندی دده په مقابل کی را وپاڅیدلې , هغه یی رانسکور کړ څو په پای کی په ډیر ناوړه شکل دمرګ کندی ته ولوید . داهغه څه دی چی باید ورنه دعبرت پاخه درسونه اخیستل شوی وای . خوله بده مرغه نه افغانی چارواکو اونه هم د وسلو اوپیسو په نشو مستو خارجی ځواکونو لدی نه پند واخیست .

امریکایانو هم دافغان پخوانی مسلکی روزل شوی اردو په پاته شونو کی د روسانو پشان دخپلو موخو ترسره کول ګران ګڼل , نوبی هغوی په یوه پابل نامه دملي اردو نه لیری او پرځای یی دبیسوادو لومپنو وسله والو ډلو استازی ځای پرځای کړل . لدی نه پرته یی دخصوصی امنیتی شرکتو ترنامه لاندی مسلکی داړه ماران سره راټول او په پرمختللو وسلو سمبال کړه . لکه څنګه چی دشوروی دوخت دملیشو سره داشغالګر سره اردو ملاتړ وو نو یی دهیچا هیڅ ډول پرنسیپ او وسله وال دسپلین ته غاړه نه ایښوده اوچی کله یی زړه غوښته دهرچا په وړاندی یی پر ماشې ګوته کښیکښل . همدارنګه دامریکا او ناټو تر وزر لاندی راټول شوی توپکیان هم چی دهغوی لخوا خپل هراړخیز ملاتړ وینی د دولتي قواوو هیڅ پروانلری او له بده مرغه دا د وړاند وینی ورده چی دکندهار دغه پیښه به اخیرنی نه وی او هره ورځ دداسی پیښو انتظار ایستلای شو .

په هرحال دپیښی لاملان خو داګړی ګویا دقانون منګلو ته سپارل شویدی چی دخپلو کړونو سره برابر انصاف تر لاسه کړی . مګر ترهغه ځایه چی دغه کسان دزورواکی مافیا کړۍ جوړوی نو دقانون جال ددوی دپاره ډیر سست ښکاری او باور نه راځی چی دسر دیوه ویښته دجداکولو توان به یی هم دقانون ددغو کمزورو منګلو سره پیداشی .

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.